**د مارچ اتمه،**

**د ښکيلاکګرو، ګوډاګيانو او اينجويي نانځکو د ستم پر ضد د ستمځپلو ميرمنو د پيوستون ورځ**

د مارچ اتمه، د زيارکښو ميرمنو د مبارزې او خلاصون ورځ په داسې حال کې لمانځو چې زمونږ ګران هيواد د امپرياليستانو لخوا تر تيري لاندې دی او د هر کال په تيريدو سره د دې تيري ناورين لا زياتيږي. په ښکيلاکمېنه افغانستان کې ميرمنې د بيلابيلو ستمونو تر لاندې ژوند کوي. په اوسنۍ روانه امپرياليستي جګړه کې ميرمنې تر ټولو زياته قرباني ورکوي، امپرياليستان يې په بمباريو کې وژني او ګوډاګيان يې په نوم سوداګري کوي.

دا وخت د افغانستان کارګرې او زيارکښه ميرمنې د درې ستمونو لاندې ژوند کوي. ښکيلاکي ستم هغه وحشيانه ستم دی چې د نورو زيارکښانو د وژلو تر څنګ پر ميرمنو له هيڅ ډول جنايت او ستم څخه ډډه نکوي. امريکايي او ناټويي امپرياليستان له يوې خوا کارګرې، دهقانې او نورې خواري کښې ميرمنې وژني، ځپي او په وير او ماتم يې کښينوي، له بلې خوا خپلو اينجويي نانځکو ته ډالرې او يورو ورکوي څو د ښځو د حقوقو بغارې په لاره واچوي او د داړه مارو امپرياليستانو خونړۍ جامې زمونږ د ولس او په تيره بيا د ميرمنو له سرو وينو پاکې کړي. دا هغه بوږنونکی ستم دی چې د افغانستان د بيوزله ميرمنو اروا او وجود ځوروي، نو ښايي چې د امپرياليستو يرغلګرو تر څنګ ټولې هغه سياسي بدلمنې نانځکې چې د ميرمنو پر ټپونو سوداګري کوي، ورټل شي.

طبقاتي ستم چې د زبيښاک په توګه راڅرګنديږي، هغه بل ستم دی چې د نارينه وو په پرتله ميرمنې زياتې ځپي. دا ستم چې د امپرياليستي ستم سره مل، خواري کښه طبقې لوټي او د فقر او ناداری دربيلو ته يې ورټيله کوي، د ښکيلاکګرو د ستم او بلوس تر څنګ هغه ستم دی چې د ميرمنو ژوند يې په فقر، بدلمنی، وزګارتيا، ناروغی، کهډه والی، سوالګری او نورو رنځونو او کړاونو لړلی دی. اوسنی ګوډاګی نظام چې د پانګوالو او فئوډالانو د ګټو د خونديتوب لپاره رامنځ ته شوی، د طبقاتي واټن د لا زياتيدو لامل شوی او هرڅومره چې لوټمار پانګوال او فئوډالان شتمن کيږي، د هغه څو چنده خواري کښې طبقې د فقر او ناداری خوا ته درومي چې ميرمنې په دې منځ کې تر ټولو بوږنونکی حالت لري.

د ميرمنو په وړاندې د نارينه وو تاوتريخوالی، هغه بل ستم دی چې د ميرمنو او په تيره بيا د خواري کښو او بيوزلو ميرمنو ژوند يې تريخ کړی دی. افغانستان د ميرمنو په وړاندې د تاوتريخوالي په نوم لړ کې لومړی ځای لري. دلته هره ورځ د ميرمنو په وړاندې د تاوتريخوالي کچه زياتيږي او په ورته وخت کې د تاوتريخوالي کرغيړن ډولونه رامنځته کيږي. وهل، ډبول، کنځل، د بدن د غړيو پرې کول، سوځول، په دار ځوړول، جنسي تيری، زور زياتی هغه کرغيړن او وحشيانه چلندونه دي چې د ميرمنو په وړاندې تر سره کيږي.

د دې ستمونو په منځ کې اينجويي نانځکی د يرغلګرو سفارتونو د وروڼو تر شا په نوبت ولاړې دي او د پروپوزلونو په ورکولو سره د دې تر څنګ چې د بهرنيو ښکيلاکګرو زړونه لاس ته راوړي د ډالرو او يورو په چکونو هم سترګې ښخوي او همدا دی چې ځينې ظاهري او اينجويي حرکتونه کوي چې د ولس لخوا په ملنډو يې هرکلی کيږي. اينجويي ليوان، د امريکا کانګريس او د ښکيلاکګرو سفارتونو لخوا «د افغان ميرمنو د حقونو» لپاره د فنډ اعلان ته غوږونه بوڅ نيولی او يو له بل څخه ژر ځان بادار ته رسوي تر څو دا ښکيلاکي فنډ تر لاسه کړي.

د دې ستمونو او د اینجویي لیوانو په منځ کې، تر اوسه پورې زمونږ کینې غورځنګ نه دې توانیدلی چې د زیارکښو میرمنو واقعي غورځنګ رامنځته کړي. همدا تشه ده چې د میرمنو سرکاري او مدني ټولنې د ښځو په نامه سوداګري کوي او ښکیلاکګر د دې چوپړ په بدل کې ورته د «شجاعت» مډالونه ورکوي.

د افغانستان انقلابي سازمان په دې اند دی چې یوازې او یوازې د ښځو انقلابي غورځنګ چې مارکسیزم یې لارښود وي، کولای شي د ښکیلاک او زبیښاک د ناورین ځخه د خلاصون لپاره پریکنده ګامونه پورته کړي. تاریخ ښودلې ده چې هیڅ انقلاب د ښځو له پراخه ګډون پرته بریا ته نه رسیږي، نو اړینه ده چې د خپلواکی، آزادۍ او برابرۍ د جګړې د بریا لپاره ښځې په یو انقلابي، پرمختللي او مخکښ غورځنګ کې راټولې شي او د نورو انقلابي ځواکونو سره د ښکیلاک او زبیښاک په وړاندې دموکراتیک پرمختللی انقلاب رهبري کړي.

**مړ دې وي امپریالیزم**

**مخ په وړاندې، د سوسیالیزم په لور!**

**د افغانستان انقلابي سازمان**

**د ۲۰۱۵ د مارچ اتمه**